وهیچگاه نظامهای شاهانی به سالت و نه تسلیم
تابرمردم گوی پیشینه پیام بر صلح افغانستان که آسمان گوشه باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل ۱۰۳۳ سال هژدهم شمارهٔ (۱۲۰) ۵ شنبه (۱٦) قوس ۱۳۷٤هـ ش (۱۵) رجب المرجب ۱٤۱٦ هـ.ق (۷) دسمبر ۱۹۹۵ م

مونږ به استاد توانا داستاد ربانی پرځای خپل مشرکړو

له جمعیت اسلامی سره دمتوازی جمعیت گوند دجوړولو پریکړه شوی ده

پېښور- (نیوز) :

په جمعیت کي درباني مخالفین غواړي په پېښورکي درباني پـه خلاف یومتوازي تنظیم فعال کړي اوپه پېښورکي دجمعیت پـه ټولو دفترونو تسلط پیداکړي .

دمخالفینوبرکس پرون مطبوعاتوته وویل چي په هیوادکي دجمعیت دېولسو ولایتونومسئولینوتصمیم نیولي چي درباني دپالیسیو په خلاف بغاوت وکړي اوهغه دتنظیم دریاست څخه گوښه کړي . هغوي ویلي چي دجمعیت دهغه شمیر زیاتو وگړو ملاتړتي ترلاسه کړي چي دتنظیم ددیکتاتورانه پالیسو په نتیجه کي زیانمن شوي .

په ننگرهار، لغمان، قندهار، زابل ، لوگر ، غور، اوروزگان اونورو ولایتونو کي دجمعیت مشرانو، دراپوروټوله مخي، دغه پلان تائید کړي اوحاضرشوي چي دجمعیت دمشرتابه په خلاف یو متوازي تنظیم جوړ اودرباني گروپ دقدرت نه خلع کړي

دغـه مخالفي سرچینې وویل چي هغوي په سمنگان ، کـندز، بلخ او نوروشمالي ولایتونوکي هـم دجمعیت دمشرانوسره تماسونه نیولي اودهغوي دملاتړ دلاسته راوړو له پاره ئي مثبت ځواب ترلاسه کړي .

دجمعیت دتنظیم پخواني غړي کي چي هڅه کوي دتنظیم مشرتابه اودهغي پالیسي چلنج کړي دننگرهار دولایت مسئول شهـزاده خـان ، دلوگر دولایت مسئول داکترفضـل الله ، دبلخ او مزارشریف څخـه استاد خلیل، دزابل دولایت مسئول منصورخان، اودجمعیت لیکوال عصمت الله « قانع » ،دقندهار دقول اردو پخواني قوماندان اودجمعیت دمسئول مولوي نقیب الله ، وورور صوفي غفور هم دجمعیت په تنظیم کي ددغه مخالفینوسره لاسونه یوکړي دوي هڅه کوي چي دجمعیـت او پخواني مشر استاد موسي توانا چي تیرکال جنرال دوستم ملي جنبش سره یوځاي شوي بیرته راضي اودتنظیم دمشر په توگه وټاکي . دباوري سرچینوله مخي په پېښورکي به دتنظیم په دفترونو دغـه مخالفین تن تسلط ومومي .

پاکستان سفارت خود را درجلال آباد فعال می سازد

پشاور – ۱۵ قوس :

حکومت پاکستان قاضي همایون سفیر آنکشوردرافغانستان راباچند تن دیگر از مامورین سفارت به جلال آباد میفرستد تا امور سفارت رادرآنجابه پیش ببرند .

رسانه هاي خبري گزارش میدهندکه قاضي همایون وسایر مامورین سفارتخانه پاکستان درقونسلگري پاکستان درجلال آباد به کارآغازخواهندکرد واین چارمین بارظرف سه سال گذشته است که پاکستان سفارت خودرا ازکابل به جلال آباد منتقل مي سازد .

منابـع وزارت خارجه پاکستان اظهارداشته اند که حکومت پاکستان به چند دلیل تصمیم گرفته است تاسفارت

ص(٤)

دهماهنگی شورا اوطالبانو ترمنځ شوی توافقات به اعلان شی

دطالبانو هیئات دخپلو مشرانو له هدایت وروسته بیرته راځی

پېښور :

دطالبانودغورځنگ هیئت به چي په دي اوني کي قندهارته تللي و بیرته اسلام آباد ته راستون شي .

په پېښورکي باوري سرچینوویل چي ددي قوي امکان شته چي په راروانه اوني کي به دطالبـانو دغـورځنگ دهیئت اوهماهنگي دشـورا ترمنځ دشوروموافقو داعلان اونورو نظامي گډوعملیاتو دتوافقاتو په هکله خبري اتري پیل شي

باوري سرچینوزیاته کړه چي دطالبانودغورځنگ او هماهنگي شورا ترمنځ عملاً توافق شوي وچي دغه موافقي به دتیري یك شنبي پـه ورځ په یوه مطبوعاتي کانفرانس کي اعلانیږي، خو دځینووجوهاتوپه نسبت دااعلان وځنډول شو. او دطالبانوهیئت دخپلي مرکزي شورا سره دزیاتو مشورو په خاطرقندهارته ولاړ.

منبع وویل چي دغه هیئت به په دوه ورځوکي بیرته راوسیږي اودشورو توافقاتو داعلان په هکله عملي اقدام صورت نیسي .

دکابل اداری (۱۷) تنه قوماندانان دهماهنگی عالی شورا ته تسلیم شول

له دغو قوماندانانو سره (۱٦۳۰) تنه ملگری دی

ددره صوف په ولسوالی کی د کابل اداری خپلی وروستی مورچی له لاسه ورکړی

سمنگان – دلیندي ۱۵ مه :

دسمنگانوله ولایـت څخه د حزب اسلامي یوي خبري، منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي دشهادت خبریال ته وویل :

دروان کال دلیندي په ۱٤ نیټه دسمنگانو ولایت ددرهٔ صوف دولسوالي په مرکزهي کي دکابل اداري (۱۷) تنه قوماندانان هریو عبدالحکیم ، نورالدین، شجاع الدین، رئیس مامور نصرالدین، ملاغیب الله ، حاجي عبدالجبار ، مولوي حق نظر، حاجي کرام الدین، مولوي نجم الدین، ظاهر، ملابابه جان، جلال الدین، حیات الله، حمیدالله اونعمت الله دخپلو ٦۳۰ تنوسله والو اوزروتنویي وسلي کسانوسره دهماهنگي عالي شوري ځواکونوته تسلیم شوي دي .

نوموړیو قوماندانانو خپلي درندي وسلي، دوسلو، مهماتو او خوراکي موادو

(٤)مخ

ایران درافغانستان میدان هوایی اعمار نمی کند

پشاوز – ۱٦ قوس :

ایران درمنطقه هزاره جات افغانستان میدان هوایي اعمارنمي کند بلکه صرف کمك هاي بشردوستانه دراختیارمهاجرین قرارمیدهد .

این مطلب راعلي رضا قونصل ایران مقیم پشاورطي مصاحبه اي اظهارداشته است .

علي رضا گفته است که : بین بامیان وباکو دومیدان هوایي موجود است وکمشنري عالي سازمان ملل براي مهاجرین

ص(٤)

دچارآسیاب مسلمانو خلکو دکابل اداری پرخلاف مظاهره وکړه

مظاهره کوونکو پرچاراسیاب دکابل اداری هوایی برید وغانده

چارآسیاب – دلیندي ۱۵ مه :

پرون دچهارآسیاولسوالي په سلگونو اوسیدونکو دکابل اداري په خلاف مظاهره وکړه .

دچهارآسیاب له ولسوالي څخه په رارسیدلو رپوټونوکي ویل کیږي چي مظاهره کوونکو دچهارآسیاب دولسوالي په بي دفاع خلکو دکابل اداري له خوا دبمباریوغندنه وکـړه ، اودکابل اداري دپلویانو داعمل ئي یواسلامي ضد اوبشري ضد عمل وباله .

په خبرکي ویل شوي چي مظاهره چیانو په افغانستان کي دجگړي دسملستي بندیدلو غوښتنه وکړه .

کابل ښاریوځل بیا په توغندیو وویشتل شو

کابل – دلیندي ۱۵ مه :

دکابل له ولایت څخه یوي باوري منبع شهادت ته وویل : پرون هم دکابل ښاریه جنوب ختیځ کي دطالبانو اودنظارشورا دپلویانوترمینځ ددرندو وسلو جگړه روانه وه .

خبرځاي زیاته کړه دجگړي دځاني اومالي تاوانونو په باب تراوسه پوري کوم رپوټ نه دي ترلاسه شوي خودواړه خواوي یودبل په سنگرونوباندي دتوپونواولیري واتن ویشتونکي ترغندي استعمالوي اوغواړي دجگړي په وروستي رامینځ ته شوي سړبټ کي بدلون راولي . خو تراوسه پوري ددواړو خواولوړتي کرښي ددوو ورځوپه اوږدو کي په خپل ځاي باقي پاتي دي.

خبرځاي زیاته کړه : پرون دکارته ۳ داسترگني په سیمه کي دوه توغندي ولگیدل چي ۸ تنه کابل ښاریان وژلي دي .

په وژل شویو کسانوکي دوه ښځي اویو ۷ کلن ماشوم شامل دي. دغوتوغندیو دمرگ ژوبلي برسیره دري کورونه هم وران کړي دي .

دکندوز په ولایت کی دنظار شورا قوماندانان په یو بل باور نه کوی

په دغه ولایت کی دنظار شورا دقوماندانانو ترمنځ په یونښته کی ۱۷ تنه مړه او ټپیان شول

کندوز – دلیندي ۱۵ مه :

دکندوزله ولایت څخه یوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي دشهادت خبریال ته وویل :

دکندوزپه ولایت کي دنظارشورا قوماندانان یوپربل بي باوره شوي اوپه دي وروستیوورځوکي ئي یودبل په خلاف وسله اوچته کړي ده .

دغي خبري منبع وویل : چي دوي ورځي وړاندي دنظارشورا دووقوماندانانو هریو میرعلم اوعطامحمد یودبل دبي وسلي کولو هڅي پیل کړي چي په دغه موقع ددواړوترمینځ جگړه ونښته ، چي ددغي جگړي پـه ترڅ کي ددواړو خواووڅخه ۱۷ تنه مړه اوټپیان شول.

دغه جگړه چي دکندوز دولایت په مرکزکي دسهارپه ۸ بجـو پیل شوي وه دغرمي تر۱۲ بجوپوري په تندي سره روانه وه .

ویل کـیږي چي ددغوقوماندانانو ترمینځ چي کومه بي باوري رامینځ ته شوي ده تراوسه پوري په خپل ځاي باقي پاتي ده اوددوي ترمینځ دنورو خونړوجگړو دپیل امکان شته .

وزیرسابق کارجاپان به جرم رشوت گرفتارشد

ترکیو – ۱۵ قوس :

وزیراسبق کارجاپان به جرم رشوت وشکستن اعتبار گرفتارشد .

قرار گزارش منابع خبري بین المللي تاشیویاماکوچي وزیرکار اسبق جاپان زماني خودراتسلیم کرد که پارلمان جاپان مخفیانه راي دادند تا مصئونیت عدم بازداشت وي سلب ونامبرده گرفتارشود .

یاماکوچي متهم است که بیست وهفت ملیون دالر راازدوبانك به آن دوکمپني منتقل ساخته است که ازطرف افراد فامیل اواداره مي شود. برادر وخواهر نامبرده قبل ازوي دستگیرشده اند.

استاد خلیلی ادعای مداخله ایران را در افغانستان ردکرد

بامیان – ۱۵ قوس :

استاد عبدالکریم خلیلي رهبر حزب وحدت اسلامي ادعاي برخي منابع را درزابطه با مداخله ایران درامورداخلي افغانستان رد کرد.

براساس گزارش رادیوتهران محترم خلیلي بااظهار این مطلب گفت : که مسافرهاي هیئت هاي مختلف ایراني رابه داخل افغانستان تلاش هاي صلح جویانه آنکشور درجهت قطع جنگ وخون ریزي وایجاد صلح وامنیت درافغانستان میدانیم واین سفرها به معني مداخله ایران درامور افغانستان نیست .

همچنان محترم خلیلي خبراحداث یك میدان هوایي توسط حکومت ایران درشهر بامیان را رد کرده واظهارداشت که درشهربامیان دومیدان هوایي وجود دارد وضرورتي به اعمار میدان جدیدنیست .

سومین سالگرد شهادت مسجد بابری

پشاور – ۱۵ قوس :

به تاریخ شش دسامبر سومین سال شهادت مسجد بابري درایالت آیودیاي هند بدست هندوهاي متعصب مکمل شد .

قرارگزارش ، حکومت هند درمخروبه مسجد بابري که سه سال قبل یعني درسال ۱۹۹۲ بدست هندوهاي متعصب شهید ساخته شد، اقدامات امنیتي وحفاظتي راتشدید کرده است .

مطابق گزارش مسلمانان و نیزهندوها گفته اند که دست به راه پیمائي وتظاهرات خواهند زد. هردو جناح به افراد شان دستورداده اند تا درایالت آیودیا درمحل مسجد تخریب شده حضوربهم رسانند . بالمقابل حکومت هند تدابیرشدیدامنیتي

ص(٤)

هفتصد هزار بیرل تیل به افغانستان صادرخواهد شد

اسلام آباد – ۱۵ قوس :

حکومت مرکزي پاکستان غرض رفع کمبود ذخایر پولي وجلوگیري ازقاچاق تیل اجازه داده است تاهفت صدهزار بیرل تیل به افغانستان صادرگردد .

مطابق گزارشي که در روزنامه جنگ به نشررسیده اداره نفت دولتي پاکستان PSO باافزایش نود فیصد نفع درفي لیتربه افغانستان تیل صادرخواهد کرد .

ازین معامله مبلغ یازده ملیارد ویکصدوبیست ملیون روپیه حکومت پاکستان بدست خواهد آورد .

قرارگزارش ، این تصمیم بتاریخ ٢٦ اکتوبر درکمیته اقتصادي کابینه حکومت پاکستان گرفته شدکه متعاقباً بتاریخ بیست نوامبر رسماً منظورشد . وزارت تجارت پاکستان به گورنرسرحد ووزارت امورسرحدي وعلاقه جات شمالي نیز دراین مورد نوشته است که امتیاز صدور این تیل به امیربیگم خانم یك کرنیل متقاعد ومتوفي داده شده است .

منابع وزارت تجارت پاکستان گفته اند درقسمت تورید وتصدیراین تیل محصولي درکارنمي باشد لیکن تمام وارد کنندگان وصادرکنندگان این تیل منحیث نمایندگان دولت کارخواهند کرد.

قرارگزارش این عملیه درظرف شش ماه به پایه اکمال خواهد رسید وهدایت داده شده که هرلیترتیل باپنج روپیه نفع که قیمت في لیتر رابه دوازده روپیه افزایش میدهد، به افغانستان صادرخواهدشد .

##

براساس قانون جدید انتخاب جانشین شاه درعربستان سعودی :

شایسته ترین شهزاده ، پادشاه سعودی خواهد شد

ریاض – ۱۵ قوس :

درصورت عزل ویافوت شاه درسعودي ، مطابق قانون جدید شایسته ترین شهزاده بحیث پادشاه برگزیده مي شود درحالیکه درگذشته ولیعهد به سلطنت میرسید.

بنابرگزارش آژانس خبري فرانس پرس ملك فهد پادشاه سعودي دچارمریضي شدیدي میباشد گرچه تاحال جانشیني که بعدازوي زمام اموررا به دست میگیرد انتخاب نشده است ولي باوجود آن شهزاده عبدالله که ولیعهد سعودي میباشد تمام امور را انجام میدهد ودرکنفرانس سران شوراي همکاري خلیج نیز به نمایندگي ازکشورش اشتراك ورزید .

شهزاده عبدالله حین رسیدن به منطقه به خبرنگاران گفت : ماباخلیجي هائي که امن وسلامتي منطقه رابه خطرمي اندازد شدیداً مقابله خواهیم کرد . وي اضافه کردکه ما دشمنان داریم ولي مسئله عمده حفظ سلامتي منطقه است . این اولین مرتبه است که ملك فهد درشوراي همکاري

ص(٤)

اسماعیل خان یوځل بیا له طالبانو سره دجگړی قوماندان شو

ایرانی الوتکی دبگرام هوایی ډگرته بوځی مهمات وړی اوپرځای یی بوشمیرکسان ایران ته بیایی

دطالبانوپرخلاف دهیوادپه غربی سیموکی دجگړی دپیل کولوهڅې

دمشهد باوري سرچیني

کابل اداره غواړی چی په هرات کی خپله پخوانی اشتباه بیا تکرار کړی

طالبان دهرات له پولوڅخه په کلکه څارنه کوی

ملاعبدمحمد «واحدیار»

مشهد – دلیندي ۱۵مه :

دهرات پخواني والي اسماعیل خان یوځل بیادغربي سیمو قوماندان وټاکل شو .

یوي باوري سرچیني دمشهد څخه شهادت ته خبرورکړ چي دایران دحکومت په مینځگړیتوب په هرات کي دماتي وروسته دجمعیت دقوماندانانو ترمنځ چي کوم اختلافات راپیداشوي وهغه له منځه ولاړل اودجمعیت دغربي ولایتونو پخواني قوماندان اسماعیل خان دټولو اړخونوله خوا دهیواد په لویدیځ سیموکي دطالبانوپه خلاف دجنگ عمومي قوماندان وټاکل شو.

په هرات کي دطالبانو په لاسوماتي وروسته اسماعیل خان دکابل داداري اودخپلوقوماندانانولخوا په بي کفایتي اودسعودي، پاکستان او امریکي څخه په رشوت اخستلو متهم کړل شوي و. هغه ئي نه یواځي دغربي حوزي دقوماندانانې څخه عزل کړ، بلکه دهغه پرخلاف ئي دهغه معاون اومخالف علاوالدین خان چي دشوراي نظار سره نږدي اړیکي لري

(٤)مخ

روسیه مخالف توسعه ناتو در اروپای شرقی می باشد

بروکسل – ۱۵ قوس :

آندري کوزیروف وزیرخارجه روسیه برمخالفت کشورش به ارتباط توسعه پیمان ناتو دراروپاي شرقي تاکید کرد.

نامبرده که دربروکسل سخن میگفت اظهارداشت : روسیه آماده همکاري باناتو دراین منطقه است ولي پذیراي توسعه آن نیست . کوزیروف که غرض شمولیت در کنفرانس وزراي خارجه ناتو به بروکسل رفته است این مطالب رااظهارداشت .

ازجانب دیگر وزراي خارجه ودفاع کشورهاي عضو پیمان ناتو روزقبل پلان تحدید رامبني براعزام نیروي شصت هزارنفري پذیرفتند، این نیروي نظامي وظیفه دارد تاازصلح وامنیت دربوسنیا پاسداري نماید ونیروهاي روسي دوشادوش نیروهاي ناتو درآنجاانجام خدمت خواهد کرد .

مژده مژده مژده

رادیوپیام آزادي :

درمدت نشرات رادیو پیام آزادي ۱۵ دقیقه تزئید به عمل آمده است، شنونده گان گرامي مي توانند ، نشرات این رادیورا سراز روزشنبه تاریخ (۱۸) قوس سال جاري هنگام صبح ازساعت (۷) الي (۸:۱۵) وهنگام ظهر ازساعت (۱۲) الي (۱:۱۵) بعدازظهربوقت افغانستان ، روي امواج کوتاه (٤۱)و(٤۲) متر استماع فرمایند .

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنګ

سرمحرر: محمد نذیر «بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پشاور

دتماس دلي جوړولو ته څه اړتیاده؟

دافغانستان ستونزه په پلمونه بلکې په صداقت او ورورولۍ حل کېږي

درې نیم کاله وشول چې په افغانستان کې دکمونستانویادروس دایجنټانو واکمنې په مستقیم ډول راپرځول شوې خوهمدغه پرځېدلې جاسوسان په یوډول نه یوډول سره زموږدخوږېدلي ملت په لاپخرغه کولوپسې روان دي په همدې موده کې ددوي وکړای شول دکابل دائتلافي اداري په بڼاکې خپله بقاهم پیاورې اوزموږ مظلوم ملت له ستروناخوالوسره مخامخ کړي .

څه دپاسه تېره درې نیم کلنه موده دشورای نظار دانحصاري اهدافو اوکړو وړوله امله زموږ دهیواد داسې بحرغه دوره بلل کېږي چې زموږ وياړلی اسلامي جهاد په روښانه اوځلانده نوم بې توري پردې خورې کړي . دغې ډلګۍ دداسې افعالوله پاره زمینه برابره کړه چې نه یوازې یومجاهد افغان مسلمان بې له یادولو کرکه کوي بلکې هیڅ مسلمان ته بې دتربوالوپه وړاندې جګې سترګې پرېښودې.

که دهمدغې ډلګۍ دحکومت نادودي اوکړغیړن عملونه نه وای نوده هیواد روانه بحرغی په لاهماغه درې نیم کاله پخواپای ته رسیدلی وای . نه به اوس جګړه وای ، نه به هم دجګړې عوامل اونورجګړه مارځواکونه . سیاسي تېروتنې اووروسره پوځي اونظامي اشتباهګانې پاهملرنه تل دغه رازله ستونزو اوکړاوونوداك نتایج ورکړي .

په زغرده سره ویلی شو چې په ملي اوبین المللي دګرونوکې دافغانانو دروانې بحرغې وضعې عامل همدغه دکابل پرځوکوځوقابض اوغاصب ځواك دې چې دانحصارپه لمبوکې ئې زموږاسلامي هیواد اوښتنې لوګي شول .

دکابل انحصارګرې اداري دخپل انحصاري ژوند دبقااوډوالي له پاره تل داسې پلمې اوبهانې کړې چې زموږ مجاهد ملت پرې ښه پوهېږي چې څنګه هغوي خپله څلورمیاشتني واکمني داده څلوروکلونوته نژدې کړېده .

دقدرت دخلا ، چاته دواك دورکولو ، داهل حل وعقد دشورا ،دنورو بیا په اسلام آبادکې دټولوتنظیمونو په غونډوکې دربانې له چل ول ته ډك سلوك ،دمکې مکرمې له میثاق ، دایران له سفر، دجلال آباد په غونډي کې دربانې ناغېرګې، په چهارآسیاب کې دوزیرانودشورا دنه جوړېدو، وروسته په غزني اوهرات کې دخپلې خوښې غونډوجوړول ټول دمسعوداودرباني ترمشرۍ لاندې دنظار دوګلې بهانې اوپلمې وې چې دخپل عمرداوږدولو له پاره یې کولې .

پرون شپه دکابل دائتلافي اداري تش په نامه ددولت په چاروکې دبهرنیوچارو وزیرنجیب الله لفرائي ددغوپلمویه شمیرکې یوه بله پلمه هم وروزیاته کړه . دغه انحصاري ډلګۍ داسې اټکل کوي چې افغانان ددوي په اصلي اهدافو نه پوهېږي باخبرای مه کړه ګاته اورانده دي . دوي په دې ډول پلموسره غواړي خپل عمرخوشېږي ورځې اوږدې کړي .

داځل دوې دمحمودمستیري داته ویشت کسیزلست تر پلمې لاندې د دافغانستان دستونزې داوارې له پاره دتماس دډلي دجوړلو د پیشنهادکړي چې دتماس دله باید داروپائي اتحادیې، ناپیلیوهیوادونو ، داسلامي کنفرانس له هیوادونو اودملګروملتونو له خوا جوړه شي چې په دې توګه به دافغانستان دمسائلي دحل له پاره یوقوي ځواك جوړشي اوداستونزه به آواره شي .

له لفرائي نه پوښتل کېږي چې : آیا دغه ډلې دملګروملتونو غړیتوب ناتې ؟ که ستاسې سپاهي لښکر په کارده ؟ دتماس ډله به څه کوي ؟ آیا دافغانستان دستونزې آواري به دافرادو په ډېروالي حل کېږي که دمعقول پیشنهاد اودانحصارد پرېښودلو له لارې ؟ تاسې تراوسه کومه طرح منلې ؟ کومه طرح مودمشکل دحل له پاره یوقوي ورکړي ؟ آیا تاسې داسلام آباد له معاهدې ته په ملي اوبین المللي سطح تضمینونه عملي کړل !

له جهادي مشرانواوتنظیمونوسره موکوم تړون ته غاړه ایښې ده ؟

زموږمجاهد ملت په دې ښه پوهېږي چې یوشمیر بهرنۍ طاقتونه دملګروملتونو په ګډون نه غواړي چې زموږ روانه ستونزه اواره شي کله چې دکابل په پرځوکوځوقابضه ډلګۍ دپرځولو پولوته رسېدلې یوبهرنۍ لاس بې دژغورنې اوملاترله امله رااوږدېږي په همدې خوتیروشپروځوکې چې بیاهم همداسې شرایط رامنځ ته شول نومحمودمستیري له یوې خوا اوښېرمن رافنیل له بلې خوا راوالوتل اودخپلو یوشمیرنوروانډیوالاتوپه مرسته بې په کابل کې حاکمه ډلګۍ له ډېرژر پوځي سقوط څخه وژغوروله .

زموږملت دملګروملتونوله سرمنشي، دامنیت له شورا اوله نورو سوله دوستو هیوادونوڅخه خواښېنې دي . هغوي واېې چې دکابل دقابضې اداري کوم ځای اوشکل دیوه قانوني حکومت یادولت ممثل دي چې په ملګروملتونوکې دافغانستان څوکې دمسعودډلګۍ ته سپارل شویدي؟ دغه ټولنه ولې دیوې غاصبې اوانحصارګرې ډلې استازې ته پخپلوغونډوکې برخه ورکوي ؟ په دغه رازغونډوکې دافغانستان نمایندګي باید بیادتعلیق حالت ته وغورځول شي اوترهغه چې په افغانستان کې دټولو مؤثروقوتونوله خوایومؤقت حکومت نه وي جوړشوي اوبادسولې په لورکوم پرمختګ نه وي شوي باید درباني اومسعود استازي غونډې ته پرې نه ښودل شي .

موږیوځل بیا وایوچې درباني اومسعود انحصاري ډله دې یوه داسې تګلاره غوره کړي چې زموږستونزه پخپله افغانان حل کړي . که چېرې افغانانوته دمشکل دحل صلاحیت نه ورکول کېږي نودغه روان تاتاریه همداسې روان وي . موږپوهېږو چې دوي په دې ډول له خپلو دوستانو هند ، روسیې اوځینو نورو څخه جنګي اوپوځي مهمات ترلاسه کولوته زمینه برابروي اوکېداې شي چې په دې توګه دوي دیوڅوشپو ورځوله پاره نورهم ژوندي وکړي.

خوهغه ژوند به ډېرله وېارو ډك وي چې پخپله افغان تنګیالي مجاهدین خپل برخه لیك پخپله وټاکي.داځکه چې داوطن په درواغو اوپلمونه بلکې په ربښتینې ورورولۍ سره ژغورل کېږي اوبس .

په یوه وخت په دوه کشتیو کې پښې ایښودل

مبصر

دقوس په ۱۳ مه دشهادت ورځپاڼې په مزارشریف کې دهماهنګۍ دشورا دغونډو په هکله یوخبرخپور کړی، په دې خبرکې دشورا دسرچینو په حواله ویل شوي چې د له کابل سره دخبرو اتروچانس چورلټ نشي ردیدای، شورا به دهیواد په ټولو قضایاو کې ګډ دریځ نیسي . که طالبان واقعیتونه درک نکړي، شدید ګوزارونه به وخوري . ائتلاف ته دهم آهنګۍ شورا نه بلکه طالبان اړتیالري او ....»

دشهادت ددې خبرترخپرېدووروسته دکابل څخه دطالبانو دشورا غړي ملامرجان دېوې راډیویي مرکې په ترځ کې اعلان وکړچې دهیڅ سیاسي تنظیم سره په خبروکې ګډون نلري، غواړي په تنهائي سره کابل فتح کړي، ټولو تنظیمونو اوړخونوته ئې بلنه ورکړې چې د طالبانو په صفوفو کې خپل ځانونه منظم کړي

نژدې شپږمیاشتې کېږي چې طالبانواوهم آهنګۍ دشورا دغړوتنظیمونو ترمنځ دځینې «دوستانو» په وساطت سره درانژدې کېدو له پاره مذاکرات روان دي . دغه مذاکرات هغه وخت ډېرقوت ومونده چې طالبانو دهرات په ولایت کې ماتې وخوړه اوپه یوه ورځ ئې نژدې سل کیلومتره ځمکه دلاسه ورکړه ، دعقب نشینې جبهه ئې ګرشك ته راورسېده اوکابل دلوري هم په هغه وخت کې طالبان دوېرېدو حالت سره مخ و .

چارآسیاب ئې ترمحمدآغه پورې دلاسه ورکړي و . په میدان شهرکې ئې مهم سنګرونه پرې ایښي و ، داسې اټکل کېده چې ممکن طالبان دنورې مقابلې توان ونلري اوژردې چې خپل مراکز په قندهار کې هم له لاسه ورکړي - دکابل په جنوب کې دطالبانوماتې په غزني اووردګوکې دربانې مخالف ځواکونه چې دطالبانو سره ئې هم ددوستۍ اړیکې نه درلودلې ته وهڅول چې په یوه حرکت سره دغزني ولایت ترخپل کنټرول لاندې راوړي . ځکه چې په دغه وخت کې دهماهنګۍ دشورا اوطالبانوترمنځ ابتدايي خبرې روانې وې اودبله اړخه په کابل کې درژیم غرور دطالبانوداخرې ماتې اوشکست وروسته ډېرزیات شوي و . دهماهنګۍ دشورا غړو تنظیمونو تصمیم ونیوه چې په غیرمعلن توګه دطالبانودغورځنګ سره داسې همکاري وکړي چې دغه ډله دمکملې نابودۍ څخه په ځنګ شي . دې کارته دهماهنګۍ شورا، دځینو مبصرینو دنظر له مخې، دطالبانو سره خواخوږي ته وهڅولې ځکه په هماغه وخت کې دطالبانو لهجه دټولو په خلاف ډېره ترخه اوزهرجنه وه بلکه دهماهنګۍ شورا غړي اوتل دربانې داداري مخالف ځواکونه خپل موجودیت وساتي ترڅودسیاسي اونظامي ګډونشاروتو له لارې هغوي دکابل څخه تلوته واداره کړي . دهماهنګۍ دشورا غیرمعلن تعاون دطالبانو دتنظیم سره ، که څه هم طالبان پرې تراوسه پورې اقرارنه کوي، داوچې نه یوازې داچې دطالبانو دغورځنګ له پاره به په غزني او وردګو کې سردرد نه ایجادوي بلکه په شمالي سالنګونو، بامیانواو بادغیس کې به دهماهنګۍ دشورا ځواکونه په یوله عملیاتو لاس پورې کوي . ترڅو دهغې په نتیجه کې دمسعود اودائتلافي انصیوالاتو ځواکونه ئې په ځوېرخو وویشل شي هماراز په هرات کې داسماعیل خان ځواکونه په بادغیس کې د مصروف کړل شي ترڅو دګرشك لوري ته په طالبانو فشارکم کړل شي . ددې ترڅنګ دهماهنګۍ دشورا اوپه ځانګړې توګه دحزب اسلامي قوماندانانوته چې عملاً په صحنه کې موجود وو هدایت ورکړل شو چې دطالبانو ترڅنګ دروژیم دځواکونوپه خلاف په عملیاتوکې ګډون وکړي «دبلي خوانه دقندهار، هلمند او ارزګان یوشمیر مجرب قوماندانان چې په کرېته کې ئې غونډې درلودې اوغوښتل ئې چې دربانې داداري په تعاون په قندهارکې دطالبانوپه کمزوروځایونوحمله ولګوي . خودحزب اسلامي قیادت په کلکه ددې کارمخالفت وکړ اوحتی خپلوګوډوته ئې هدایت وکړچې خپل ځانونه دطالبانو سره نژدې کړي، په حقیقت کې همداسې وشول، اوکه نه برعکس په غزني کې دطالبانوپه خلاف یوکوچنی حرکت هم ددې غورځنګ دتباهۍ سبب ګرځېدای شو، اودطالبانو قوتونه عملاً دکابل - وردګولوري ته دکلکې محاصرې لاندې راتلل . په هرصورت دهماهنګۍ دعالي شورا دغه غیرمعلن عملي تعاون ددې سبب شوچې طالبان یوځل بیا په پوره قوت سره میدان ته راودانګي اودهرات دفتحې ته بعد دکابل لوري ته مخه کړي په دغه دوران کې اوهم دهغې نه وروسته دطالبانو دغورځنګ اوهم آهنګۍ دشورا ترمنځ په اسلام آباد ،پېښور اوجلال آباد کې خبرې په جدي توګه روانې وې . همداراز دحزب اسلامي دامیر انجنیرحکمتیار اوطالبانودمسئول ملااحسان الله ترمنځ هم دانژې په سیمه کې څلورساعته مفصل مذاکرات وشول ددې مذاکراتو هدف داوچې که وکولای شي دهیواد دسیاسي نظام اومشترکونظامي عملیاتو په هکله کوم فارمول په عاجله توګه جوړ کړي .

په نظامي توګه توافقات ترسره شول خودسیاسي نظام دجوړېښت په هکله مذاکرات اوږده شول . په دغه ټول دوران کې دطالبانو نطاقانوهماهنګۍ دشوراسره دخبرواترونه انکار کړي اوحتی چې دخپلو حلیفو تنظیمونو په موجودیت ئې هم اقرار ندی کړي . دهماهنګۍ شورا ګېله دطالبانوڅخه داده چې له یوه اړخه دمذاکراتو دمیزترشا توافقات کوي خودبل لوري ئې نطاقان دغه جریان له یوه سره مستردوي .

دنظامي مشترکو عملیاتو دتوافق نه پخوا اووروسته دواړوخلو کې طالبانوپه دې اسرارکاوه اوکړې ئې دې چې هرتنظیم په هرځای کې چې وي باید درژیم په خلاف عملیات پیل کړي . مخته ولاړشي، هرچاچې هرڅومره ځای ونیوه بیابه حساب کېږي .

خودهماهنګۍ عالي شورا دطالبانو دشدیدو موافقو اواعلاناتو له مخې دطالبانو سره دا استدلال کاوه چې دکابل دسقوط نه وروسته که له هغدا اوسه په کوم سیاسي نظام باندې چې ټولو ته دقبول وړدې توافق صورت ونه نیسي نوداراتلونکې جګړې ته کولو تضمین به څوك کوي ؟

دهماهنګۍ شورا په خپل دغه استدلال کې په حق ولاړه ده . هداعلت دي چې په یومثل شوي سیاسي نظام دتوافق نه ترمخه ئې مشترکونظامي عملیاتو کې دګډون څخه ډډه وکړه . دطالبانو غورځنګ په داسې حال کې چې له یوه اړخه ئې دهماهنګۍ دشورا غړي تنظیمونه په یوډول طویلو خبرواترو کې مصروف کړي و څودبله اړخه ئې په یوازې ځان هڅه کوله چې دمذاکراتو دجریان دنتایجو ترمخه دکابل ښار ترخپل تسلط لاندې راولي . هغوي دکابل په غربي ،جنوب غربي اوجنوب شرقي سیموکې په خپل پیشرفت صبرونه کړ بلکه دچکرېو ، پغمانږي اویت خاك دنیولو هڅه ئې هم وکړه . که څه هم په لمړي وخت کې دطالبانو ځواکونو پوره وړاندې تګ وکړ خودجنګ په هکله دکافي تجربې دنه درلودلو ، اودلوژیستیکي موادو کمښت هغوي دیوې ډېرې بدې ماتې سره مخ کړل اوپه یوه ورځ ئې دېت خاك څخه دلوګر د مسو دکان دساحې پورې توله سیمه دلاسه ورکړه . تلفات ئې هم ډېرزیات و اوامکانات اووسایل ئې هم په خپلو ځایوکې پرېښودل.

که څه هم دطالبانو دغه ماتې دګرشك په څېرډماتې مثال لري اوامکان لري چې طالبان

> دهماهنګۍ شورا ته نه ښايي چې په دوکشتیو کې پښې کېږدي بلکې دیوه جهت سره داسلامي انقلاب داصالت دساتلو دجهاد دروحیې اواحساس دبیاراژوندی کولو ، په هیواد کې دامن او امان درامنځته کېدو او دجنګ دلمبو دتل له پاره دمړ کېدو په خاطر یو ځای شي اوپه پوره وفاداری دی بیادهغې ترڅنګ دخپل آخرین وګړی پوری ودریږی .

یوځل بیا دځینو «غیبي کومکونو» په واسطه نه یوازې دلاسه تللې سیمې په خپله ولکه کې راوړي بلکه دهرات په څېر به په کابل هم خپل تسلط ټینګ کړي، خوپه کابل کې دطالبانو وروستیو کامیابیو او ناکامیو دهماهنګۍ دشورا سره درانژدې کېدو اهمیت نورهم زیات کړ . ځکه چې په وروستیو حساسو جګړوکې دهماهنګۍ دشورا بې طرفې دواړه جهتونه یعنې هم دکابل رژیم اوهم دطالبانو مسئولین دې ته وهڅول چې دهماهنګۍ دشورا رابوځای کېدل ورسره دهغوي دژوندي پاته کېدوله پاره ډېرزیات قیمت لري اوباید په ګډه وورسره پروګرام جوړشي .

دطالبانوعالي رتبه هیئت په داسې حال کې دهماهنګۍ دشورا سره دمذاکراتو له پاره اسلام آباد ته راغې چې دطالبانو نوروطاقانو دمذاکراتو اوخبرواترو څخه دانکار خبرونه نشرول . دطالبانو دهیئت اود هماهنګۍ شورا ترمنځ اسلام آباد کې غالباً دقوس په اومه پروګرام جوړشو اوپه ټولو کړکیچنومسایلو دبحث وروسته توافقات وشول اوویل شول چې دقوس په ۹ مه به دهماهنګۍ شورا ، دننګرهارشورا اوطالبان ګډ عملیات پیل کړي اودقوس په یوولسمه به دسیاسي نظام په هکله توافقات اعلانیږي . یعني هماغه دطالبانو دغورځنګ پخواني فارمول به عملي کېږي ، اما دهغې فارمول پیاده کول دهماهنګۍ دشورا قوماندانانو قانع نکړای شول اوپه دې ترتیب دعملیاتو نه پېل کولو دسیاسي نظام دتوافقاتو په اعلان هم اثروکړ اوهغه اعلان چې ګمان کېده دتېرې یك شنبې په ورځ اعلان شي یوځل بیا دنامعلومې مودې له پاره وځنډېد، او داکارپه داسې وخت کې وځنډېد چې دطالبانو ځواکونه په پرلپسې توګه دعقب نشینې اوتلفاتوسره مخ دي اوهره لحظه داسې بېرچانه ضرورت لري چې لاس ورکړي اودعقب نشینې دلانجې څخه ئې په ځنګ کړي . ګړوو داکارڅه وخت کېږي ! دهماهنګۍ دشورا غړي تنظیمونه دطالبانوانتظار باسي اوطالبان دحالاتواوشرایطو !

دکابل په لور دطالبانو اخري پرمختګونو دکابل درژیم په واکدارانوهم پوره اثر وکړ اوهغه ځواکونه چې یووخت ئې خپل قوت اوفرځ ګاڼه او دهغوي سره ئې دتعاون لاس دحزب اسلامي په خلاف ان ترقندهاره پورې غزولي و . اوس ئې دخپل سقوط سترعاملین په نظر ورغلل، دطالبانو غورځنګ چې کله دنورو تنظیمونو دقوماندانانو سره په مختلفو ولایاتوکې لاس وګریوان و نودکابل درژیم مسئولینو ورته دو مصلحینو بخطاب کاوه اوتاییدول ئې . خوچې کله همدغه «مصلحین» دربانې دواکمنې لپاره په ډېره لږه موده کې چلنج وګرځېدلواوس ئې د «مفسدینو» په نوم یادوي . په هرصورت دکابل په لور دطالبانو وړاندې توب اودکابل دښارمحاصرې اوپه کابل باندې ددرنو میزایلو راپربوتو دکابل مسئولینو ته دهغوي داقتدارد ویپېدو ډېرخراب سیګنل ورکړ . دکابل درژیم واکمنوخپل ځان اواقتدار دواړه په خطرکې ولیدل اوپه دې یوه شول چې دطالبانو اوهماهنګۍ دشورا په یوځای کېدو اودهغوي له لارې دمشترکوعملیاتو دپیل کېدو په اساس دکابل دښارسقوط حتمي بریښي اوبیا ورته په دغه سترهیوادکي دپېښوداپښتونولو ځای هم په لاس نه ورځي . ځکه په دغو تېرو درې نیموکالو داقتدارپه کړکیچنې دورې کې ئې ولس سره دومره جفا کړې چې هیڅوك به ئې هم معاف نکړي .

دکابل درژیم ددغه مجبوریتونو ترڅنګ دهغوي ملاتړي هیوادونه روسیه ، فرانسه ، هند اوایران هم پټیلي ده چې دکابل درژیم څخه به تراخري وخته پورې دفاع کوي . په همدې اساس ئې بې دریغه کومکونه دتخنیکي پرسونلونو ترڅنګ ددوي په اختیارکي ایښي ، ددې ترڅنګ دغه هیوادونه په دیپلوماتیکې توګه هم ددغه رژیم داستحکام له پاره کارکوي، دغو هیوادونودرباني اودهغې دمخالفینوترمنځ دخبرودپیل اوسازش کار دایران دولت ته پرېښي . دایران دولت دافغانستان دګاونډي په څېرغواړي په هیواد کې داسې یونظام قایم وي چې دهغوي دګټو حفاظت اوساتنه وکړي.

دبلې خوانه ایران په هیواد کې دیوه سني اسلامي حکومت دجوړېښت څخه چې دعالمي اومنوري طبقې ځوارامنځته شي په ښه سترګه نه ګوري، اودهغې عمده علت دادې چې په هیواد کې دیوه سرچه اسلامي نظام دجوړېښت څخه په مخنیوي کې دایران اسلامي دولت ، چې باید تعاون ئې کړي وې، کارکوي .

د۱۹۹۳ کال دجبل السراج تړون چې دکابل دپخواني رژیم دبقایاواودنظاردشورا ترمنځ کابل ته دحزب اسلامي دځواکونو درانتوتلو څخه دمخنیوي په خاطر جوړشو په هغې کې دایران دوخت مسئولینو دروس ، هند، اوفرانسې په تعاون ډېرمهم رول لوبولی و . اودهغې وروسته ئې تل هڅه کړې چې ددې نظام ساتنه وکړي . انژردې چې هڅه ئې وکړه حزب وحدت اسلامي چې یومستقل اوازاد ګرندوي په خپل ځان پورې منسوب کړي، خوکله ئې چې دحزب وحدت قیادت خبره ونه منله نوبیائې حزب وحدت اودشیعه مذهب اوسېدونکو په ځایونوئې دنظار دشورا وحشت اوبربریت ته اجازه ورکړه ، اوبدترین فاجعات منځته راغلل . دهغې وروسته قلیمدمزاري دیوې دسیسې په واسطه په شهادت ورسېد خودایران ځرا ددغې فاجعې غندنه هم ونه شوه .

حزب اسلامي افغانستان هم په وار وار کوشش کړي چې دایران داسلامي جمهوریت سره خپلې اړیکې ګرمې وساتي، ځکه چې په هرصورت زموږ دهیواد په قضایاوو کې دایران فعاله رول اودهغه هیواد اسلامي وجاهت حزب هم دې ته اماده کړېچې دایران سره ددوستی لاس ور اوږد کړي . ایرانیانو هم دخپل ضرورت په وخت کې حزب اسلامي پوره تقدیرکړي نوکله ئې چې کارپوره شوي ئوبیا اړخ شوي دي اوحزب اسلامي ئې مایوسه کړي دي . خو په کابل کې په اوسني وخت دطالبانو دځواکونووړاندې تګ اودهماهنګۍ دشورا اوطالبانو ترمنځ توافقاتو نه یوازې دکابل داداري مسئولین وارخطاکړل بلکه دهغه ملاتړلي ایران ئې هم دیوه اندېښنوسره مخ کړ

ایران داځل هم قرارکېښي نه ناست. بلکه په بهرنیوچاروکي دوزارت نایب او دافغانستان داموروو مسئول ښاغلي بروجردي ئې راولیږه ترڅوداستادرباني ،انجنیرحکمتیار ، جنرال دوستم اواستاد کریم خلیلي ترمنځ دروابط په جهت کاروکړي . دکابل اداره چې داقتدار دبقاچانس په همدې خبروکې اودطالبانوپه خلاف په یوه مشترکه جبهه کې وینې دموقع او فرصت نه په استفادې سره هر لوري ته خپل هیئتونه واستول . بامیانوته ئې دداکترعبدالرحمن ترمشرۍ لاندې هیئت ولیږ خواستاد خلیلي سره ئې دخبرو دناکامي وروسته هغه سیمه ځورا زیاته بمباري کړه . دشمال جنبش ته ئې هیئت ولیږه اوترڅنګ ئې دحزب اسلامي سره دخبرو اتروله پاره هم هیئتونه واستول . نه یوازې دلته بلکه دهیئتونو دتبادلې سرایران ته ووت .

دایران دبهرنیو چارو وزارت چې دافغانستان دمعضلې په هکله دپاکستان سره پوره رقابت لري اوفکرکوي چې دطالبانو راپیداکېدل او دهغوي دغه پیشرفت اوپه لږه موده کې دهیواد په زیاته سیمه کنترول پیداکول دپاکستان دمستقیمې لاس وهنې

(۳)مخ

طنز
متقابل احترام

تنګیار

دېو دوست له برکته او چې هغه دچاخبره بیري مې وچلیده او د «ترافیك» مقرر شوم . خوکه رښتیاووایم مقررنه بلکه د «څلورلکه» افغانیو په مقابل کې دترافیکو د یوې پوستې غړیتوب مې ترلاسه کړ. دترافیکو پدغه پوسته کې غړیتوب «مقرریدل» څه آسان کارنه ؤ بلکه ټاکلي قیمت سره ، سره یوې ډېلې واسطې ته هم ضرورت ؤ نوځکه دغه کار هرچانه شوای کولای اوزه چې دلته بې خبره راغلي وم نو مجبوره وم چې «څلورلکه» افغاني پورکړم اونوموړي چانس لاس ته راوړم .

لمړي خومې ګمان کاوه چې قمارمې وواهه،خو وروسته پوه شوم چې قمارنه بلکه یوغیرقانوني تجارت مې په لاره اچولې، ځکه پدغو «څلورلکه» افغانیو برسېره «دوه نیم لکه» افغاني ګټه هم لاس ته راغله ، سره له دې چې جرئت اوتجربه مې هم نه درلوده ، که نه نوشایدتردې مې زیاته ګټه کړې وای .

- نه پوهېږم چې دغه قانون یارسم به یوازې دترافیکوپدغه مدیریت کې و اوکه به دترافیکوټول ریاستونو ته همداډول قوانین لري!؟ خوګمان کوم چې «ترافیکي» هنرخانته خپل ځای اوارزښت لري اوهغه څوك چې دغه هنر نلري دګټې برخه به بې کمه وي .

په هرصورت ،راپه شواصلې کیسې ته اوهغه داسې وه چې کله د «څلورلکه» افغانیوپه مقابل کې په دغه پوسته کې مقررشوم نودترافیکومدیر چې یوباتجربه سړی ؤ یوڅو ماموروته لارښوونه وکړه چې په کاردپوهولو لپاره ماله ځانه سره یوسي اودکارټول سَرونه راوښیي .

هماغه ؤ چې موږ دترافیکومامورین دخپلو ترافیکي یونیفارم سره دښار یوې څلورلارې ته ورسېدو اوپه کارمو پیل وکړ — زما دلته یوازې زمادملګري ترافیك کارته پاملرنه اوله هغه نه دکارزده کول ؤ، ځکه ما کوم ځانګړې ترافیکي تخصص اویاتجربه نه درلوده اومجبوره وم چې دکاردښه سمون لپاره کارزده کړم .

زماملګري یعنې هماغه دترافیکو ماموروکارد یو موټرپه درولو پیل کړ اوهغه داسې چې دموټرله دریدو سره سم بې له ډریورڅخه دو «لیسنس» اوه «جوازسیر» غوښتنه وکړه . په داسې حال کې چې ډریورنه لسنس اونه هم جوازسیر درلود، دهمدغوددواړوترافیکي سندونو نشتوالي دترافیك په پرېښتونو یوه خوره مسکاخوره کړه اوماته بې امروکړچې ډریورله موټرسره دترافیکو مدیریت ته بوزي ، موټرچي قیداو موټر وان محکمې ته معرفي کړي - دې خبرې په اوریدو دډریور رنګ ژېړاووارخطایي په وجود خوره شوه .

ډریور په وارخطایي جیب ته لاس کړاوڅلورسوه افغاني بې راوویستي اودترافیك په لاس کې بې ورتخته کړې، خوترافیك نورهم ځان حق په جانب وګاڼه اوټینګاریې وکړچې باید قانوني کړنه ووسره وشي ترڅوچې ډریور دوه سوه افغاني نورې هم وورسره ملګرې کړې اوپه عاجزي بې درخصتیدو اجازه وغوښته ـ ترافیك په غوسې ورته وویل : څه ! خوچې بیادبې لسنسه اوبې جوازسیره ونه وینم .

پدې ډول ترماښامه ټول تلونکي ، راتلونکي موټرودرول شول اوپه یوه اویله بهانه تري افغاني وصول شوې. ماپوازې ننداره کوله اوکاردزده کولو په فکرکې وم ، خونه پوهېدم چې خپلې «څلورلکه» افغاني به څنګه پیداکوم کارچې پای ته ورسید زماملګري ترافیك غونډې کړې پیسې راوویستې، وې شمېرل اوبیابې دهغوتهمه برخه یعنې دوه نیم زره افغاني ماته راکړې اوراته بې وویل چې دادتابرخه ده .

ماچې لاتراوسه دغسې مفتې پیسې کله هم نه وې ترلاسه کړې ، ډېرزیات خوښ شوم اوډېرسر مننې چې په زړه کې لکه دواړه ماشوم ټوپونه ووهل اوله هغه مخکښې شرم اوترحم سره مې دتل لپاره په مخه ښه وکړه .

په سبایې بیادسړك غاړې ته لاړو اودموټرودکنټرول دنده موپیل کړه، خوزه نن زه دټولو مامورینو له خوادو «امین» په حیث وګمارل شوم اوداځکه چې زه لاتراوسه په غلاته پوهیدم اودادټولو مامورینو ګډه پرېکړه وه چې هریوه هغه پیسې چې له ډریورنه اخلي بې له څنډه زماپه جیب کې اچولې اودکارترپای ته ، رسیدو وروسته به بیازه مکلف یم چې دټولوپه وړاندې خپل جیبونه خالي اوونځېم اوخالي شوي پیسې بیاپه هغه خلته «پاکت» کې چې دهمدغه کارلپاره جوړه شوي اودکنټرول دمدیردکاردمیزپه مخامخ کې ځړول شوي وه واچوم .

ټولو به پیسې زماپه جیب کې اچولي اوچې زماجیبونه به ډك شول نوبیا به زه تلم دغه پیسې به مې په هغه «خلته» کې چې دهمدغه کارلپاره دکنټرول په مدیریت کې ځړېدلې وه اچولې . ترماښامه به دوي پیسې زما په جیب اوماپه هغه خلته کې اچولې اوچې ماښام به ټول دفترته راغلونودمدیر په وړاندې به خلته تشه شوه اوبیا به دلوټونو دسمولو اوټولولو کارپیل شو . چاپه زرګون ، چاپه پنځه سوه ګون، سل ګون، پنځوس ګون او چاپه شل ګون اولس ګون ټولول اوپوځاي کول اوچې کله په دغه کارتمام شو نوبیا به یوه ټول کړي نوټونه په تقسیم سره هریوه ته ویشل اوپدې ترتیب به هرسړي خپله برخه اخستله .

خوزه ډېر وروسته پوه شوم چې په دغه ویشلوکې هم چل دي اودغه دترافیکو مامورین دنوټونو دویلوماهرین هم دي، ځکه دټولو په وړاندې به بې ځانته لس ، شل، نوټه زیات غورځولي وو، اوهغه هم په داسې مهارت چې همدغه ماهرین به هم نه وو پرې پوه شوي .

کرار، کرار زماسترګې هم خلاصېدې اودکارسَروانه ښکاره کېده، خوهغه مرحله لا ډېره لرې وه ، کومې ته چې دغه نور رسېدلي وو. ځکه هریوه دنوټونو دپه جیب وهلو عجیب هنردرلود اوبالمقابل حیاهم دومره ډېره وه چې په لیدلوبې هم سترګې پټولي .

پدغومامورینوکې یوهم بادرخان ؤ چې مامورینوورته زړه ګېډره ویله ، ځکه دټولو دپوره څارلو سره سره به بیاهم دهغه ګټه ترنورو ډېره وه اوداځکه چې بادرخان دترافیکي دندې شل کلنه سابقه درلوده .

درې ورځې وروسته بادرخان راپه غوږشو اوپه خواخوږي سره بې راته وویل : ته هم عجیب سړی یې، نورو درته د «امین» وویل اوتاهم ومنله ، دلته ټول لیوان راټول شوي اوته په کې ځان سپین چرګ بولې، ساده سړیه ! پیسې ټولې مه ورکوه ، یوڅه بې دځان لپاره هم پټوه کنه بیابه بې آرمان وکړې .

زه حیران وم چې څنګه بې پټې کړم اوچې داسلامي له بادرخان سره وکړه هغه کټ، کټ وخندل اوراته بې وویل : آسانه چل به درورښیم اوهغه داچې زه به لاس دتاپه جیب منځم خوپیسې به نه پکې اچوم بلکه بېرته به بې په لاس کې راباسم اوپه خپل جیب کې به بې اچوم اوپدې ترتیب چې هرڅومره غونډېدې دواړه به بې سره نیسو . ورته ومې ویل چې داخو بېخي ښه خبره ده خوچې داسې پکې وي هسې نه .

بادرخان همداسې وکړل ، لاس به بې زماپه جیب مانډه اوپیسې به بې په خپل جیب کې اچولې اوما به دهغوشمېر په خپل ذهن کې خوندي کاوه . ترهغوچې ماښام به شو اوبیا به مااوبادرخان دپیسو ویشل پیل کړل . خو بادرخان به دهغو پیسو له جملې نه چې غونډې کړې وې نیمه اوبیاهم دریمه برخه ویشلو لپاره راوویسته اوپه نورو به منکرشو .

دې کارماته ډېره زیاته غوسه راوسته اودبادرخان سره مې دغه ملګرتیا بس کړه داپوازې بادرخان نه و بلکه ټولو ترافیکوهمدغه چول چلند درلود اودسترګوپه رپ کې بې دنوروڅخه خپله برخه کوله ، هریوه دپیسو دپټولو لپاره په خپلو دریشیو کې مخصوص ځایونه جوړکړي وو او په مخصوص مهارت بې دغه پیسې پکې پټولې . دغه غلاڅه پټه غلاته وه ، بلکه داپوره ښېښه اوښکاره غلاوه چې یودبل په وړاندې موکوله، خوپه بې څه مهارت ، هنراودمتقابل احترام په نوم کې نیولو سره کارپه دومره رموز سره روان و چې هیڅوك هم دبل درسواکولو هڅه اوشوق نه کولو او داځکه چې پدې سره هغه رموز له منځه تلو، کوم چې ددغوټولو دګټې ضامن ؤ اوویره پدې کې وه که هغه بل رسوا کړي نوبیا به هغه هم له ده سره همداسې عمل وکړي اوداهرڅه به بې په مفته له لاسه ورکړي .

نوځکه زموږ ټولو په منځ کې د «متقابل احترام» روحیه ډېره غښتلي اوقوې وه !

بحثی از علم سیاست

محمدحلیم «تنویر»

استعمار جدید

قسمت دوم

Neo-Colonialism

استعمارجدید بدترین شکل امپریالیسم است ، زیرا با دوجهت فعالیت دارد: تسلط قدرت بدون مسؤولیت و (بهره برداري بدون خسارات)

چرا استعمارجدید ...؟

مهمترین دلایل بوجود آمدن استعمار جدید و انکشاف آن بعد از جنگ دوم جهانی عبارت اند از :

- بعداز جنگ جهانی قدرتهای استعماری اهداف پذیرش رفاهی و بهزیستی کشورها را پذیرفتند وبهمین منظور تقاضا کردند تا جهت عملی نمودن پروژه های گوناگون بودجه حاصل نمایند . این قدرتها ازطریق مستعمره هایشان سعی درتمویل بودجه ها نمودند که باعث ازدیاد اختلافات ، انزجار ونفرت مردم و برخوردها وجنگها گردید.

بادرك این موضوع قدرتهای استعماری انستیتوتهایی را در مستعمره های خود تاسیس نمودند که آغازگر بهره برداری به شیوه استعمار جدید بود. بزرگترین موفقیت استعمار جدید این بود که مناطق بزرگ ومتحد مستعمره ها را به چندین کشور کوچك ناتوان تجزیه نمود که آنها با بی کفایتی که داشتند توان اداره منطقه خود را از لحاظ اقتصادی ،سیاسی ودرسطح نظامی ومصوؤنیت داخلی نداشتند . این سیاست فعلاً در مورد افغانستان نیز به اشکال گونه گون سعی میگردد عملی گردد وافغانستان را تحت نام ملیت های پشتون ،هزاره ، تاجك وازبك به چهار الی پنج منطقه ضعیف تقسیم نماید، تا از یکطرف نیرومندی افغانها ازبین برود وازجانبی امریکا وروس به آسانی بتوانند اهداف استعماری خود را تحمیل نمایند.

کشور های انکشاف یافته وسایل تولیدی خود را به این جوامع عقب مانده وارد وبفروش رسانیده ودرمقابل تولیدات آن کشور را به ارزش خیلی ناچیز بدست بیآرند . کشورهای فقیر ویا رویه انکشاف نظر به اقتصاد ضعیفی که دارند ، جبراً وادار میگردند ، تا محصولات خود را به نرخ ناچیز به کشور های پیشرفته عرضه نمایند.

از آنجائیکه این کشور ها در دام قدرت های استعماری افتیده اند ، برای آنان ناممکن خواهد بود که خود را ازین حالت برهانند وبرای استعمارگران خیلی ساده است تا طغیان وشورشها را در محور اندیشه های خود مهار نموده وحتی میتوانند اداره حکومتی این کشور ها را به سهولت ازبین برده وافراد دلخواه وفرمانبردار خود را جانشین ایشان انتخاب ومقررنمایند.

بعداز جنگ دوم جهانی که جنگ سرد بین ابرقدرتهای امریکا وروس آغاز گردید ، بازهم برای کشور های مستعمره دشوار بود تا از چنگال اهریمنی آنان خویشتن را برهانند ومنحیث یك کشور مستقل ابتکارعمل را بدست گیرند . ایندو ابرقدرت همه سیاست جهان را درانحصار وسلطه خود داشتند وبرای کشور های نو پیدا وتازه به استقلال رسیده ممکن نبود، تاعملی مستقلانه را از خود نشان دهند، زیرا هر تغییریکه درین کشورها بوجود میآمد آنان صلاحیت تکذیب ورد این تصامیم را نداشتند واین مطلب به معنی آن بود که کشور های ضعیف از اقمار ایشان باشد.

درشرایط کنونی که جهان سیاست بسوی یك قطبی شدن تغییر مسیرداده است ، استعمار جدید درتسلط امریکا وکشور های صنعتی انگلستان ، فرانسه ، جاپان ، جرمنی ،کانادا وایتالیا قرار گرفته وحتی کشور های کوچك اروپایی عضو پیمان ناتو نیز در روند این سیاست ، نه تنها اهداف استعماری خود را بالای کشور های جهان سوم تحمیل نمودند بلکه بلاك اضمحلال شده کمونیستی" که شامل اتحاد شوروی سابقه و کشورهای اروپای شرقی اند نیز درانحصار اقتصاد ، سیاست وفرهنگ خود قرار داده اند.

روش هاي استعمارجدید

استعمارجدید به اشکال مختلفه ظاهرشده وروشهای گوناگون را بخود می گیرد وبهتر خواهد بود تادرمورد انواع روشهای استعمار جدید بدانیم .

یکی از روشهای تحمیلی وسختگیرانه استعمار جدید آنست که قوای نظامی قدرتهای استعماری درمناطق مختلفه مستعمره جدید جابجا شده واداره حکومتی را بعهده میگیرند مانند پانامه ، هایتی ،نیکاراگوا، درابنصورت این مناطق از آزادی سیاسی برخوردار نبوده ودراکثر چنین واقعات همه بنیاد های اجتماعی ، اقتصادی وتعلیم وتربیه مردم مطیع و فرمانبردار اداره استعماری است که حکومت را رهبری مینماید.

روش خیلی عادی استعمارجدید دراداره استعمارجدید ازطریق مسایل اقتصادی وپولی است وزمانیکه اکثر این کشور ها نتوانستند درآمد پولی را خدمت استعمارگران تحویل بدهند ،از طریق اعمال زور وقوه مواد تخنیکی تولیدی استعمارگران در بهای اداره دولتی آنها معاوضه گردیده ، آنها جبراً به پذیرش سرمایه گزاری خارجی گردیدند.

به اساس آمار و ارقام جدید ٪ ۹۰ نود فیصد سرمایه گزاری های شخصی کشور های تازه به استقلال رسیده از طرف کشور های ثروتمند جهان چون امریکا ، کانادا ، انگلستان ، جرمنی ،سویس ، هالند ، جاپان وفرانسه انجام یافته است . این کشورها نه تنها ازین سرمایه گزاری ها منافع زیادی رابدست آورده اند بلکه همه منابع ذخیروی وطبیعی ونیروی بشری آنان را در استثمار خود کشانده اند.

در اکثر کشورهای پیشرفته ، سرمایه ارزش بیشتر پیدا کرده وازکشورهای فقیر درموارد واردات سامان وآلات ضروری ، بها و اجرت ترمیم وتدقیق لوازم ،معاشات مشاورین خارجی ، بیمه ، پرداخت سود وغیره یکمقدار زیاد سرمایه به استثمار گران تعلق گرفته وازهمه داشته های کشورهای فقیردرحدود ۱۵ الی ۲۰ فیصد سرمایه باقی خواهد ماند.

یکی دیگراز روشهای استعمار جدید درمقابل کشور تازه به استقلال رسیده ویاعقب مانده —

